# د سید طاهر بخاري د افسانو تنقیدی جائزه

# A Critical Evaluation of the Short Stories of Syed Tahir Bukhari

Dr Bushra Ikram[1]

***Abstract:***

*Syed Tahir Bukhari is a well-known author in Pashto Language and Literature. He was born in Lahore, District Swabi in 1930. He is a versatile writer. He writes Drama, Short story and Poetry and is a very good translator. He has translated many books of Hamza baba from Pashto to Urdu and vice versa. He is famous for his long short story in Pashto. His short stories are of international importance. Current affairs, Humanity Equality, Patriotism, Pashtoon Culture and folklore and many more universal facts are the basic themes of his short stories. This research paper is an attempt to introduce this versatile short story writer to the readers of Pashto and to Critically evaluate his short stories.*

**Key Words:** Humanity, Long Short Story Pewand, Symbolism, Tahir Bukhari

سید طاهر بخاري صېب په پښتو ادب کښې د څهٔ تعریف محتاجه نهٔ دے ـ طاهر بخاري صېب يو عملي صوفي ، د حمزه بابا جانشين ، حمزه شناس ، د اعلٰی پائې مترجم ، نقاد او افسانه ليکونکے دے خو ډېرو کمو خلقو ته به پته وي چې د پښتو ادب دا ستر افسانه نګار او نقاد يو ښهٔ شاعر هم دے ـ

طاهر بخاري صېب په يوه ادبي او تعليم يافته کورنۍ کښې سترګې غړولې دي ـ د دوي د پلار نوم سيد محمد شاه بخاري وهٔ او د صوابۍ ضلعې تحصيل لاهور د ګهړۍ چم اوسېدونکے وهٔ ـ د طاهر بخاري صېب د پېدائش نېټه د هغوي د شناختي کارډ مطابق پينځلسم اکتوبر ۱۹۳۰ء ده کومه چې ما پخپله په کال دوه زره پينځلس د جولايۍ په نولسمه نېټه هغوي کره په خپلو سترګو کتلے وهٔ ـ

دوي څلور ورونه او دوه خوېندې دي ـ مشر ورور ئې مير سيد بخاري چې يو لوے عالم او تاريخ دان وهٔ ـ ''لاهور (گندهارا) تاریخ کے آئینے میں" د هغوي مشهور کتاب دے چې د ورو کي لاهور تاريخ په کښې په مستندو حوالو بيان شوے دے ـ د هغوي دوېم ورور مير سيد بادشاه بخاري دے چې ''تحریک مجاہدین جنگ بالاکوٹ کے بعد'' ئې مشهور کتاب دے ـ درېم ورور ئې بن يامين دے او په څلورم نمبر طاهر بخاري صېب دے چې پښتو ادب ته ئې وده ورکړه ـ د هېرولو نه دي ـ

---

[1] Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

**تعلیم و تربیت :-** طاهر بخاري صېب د خپل ماشوموالي د تربیت په حقله ماته اووے چې په کور کښې ئې راته اول دیني تعلیم راکړو ـ د فارسی پنج ګنج ، ګلستان او د عربی خلاصه او کنزالا قایق ئې راته په کور کښې ښودلي وو ـ تر پینځم جماعت پورې سبق ئې د خپل کلي په سکول کښې اووے ـ شپږم جماعت ئې د ګجرات سکول نه ، اووم جماعت د چکوال سکول او اتم جماعت ئې د مري سکول نه پاس کړل ـ وروستو ئې بیا د لسم او دولسم جماعت امتحانونه د پېښور نه په پرائیوېټ توګه پاس کړل او ملازمت ئې شروع کړو ـ

**ملازمت :-** طاهر بخاري صېب څۀ موده په پرېس انفارمېشن ډیپارټمنټ کښې هم پاتې شوے دے او بیا په آرکیائیوز کتابتون کښې لائبرېرین بهرتي شو ـ په دې کتابتون کښې طاهر بخاري صېب د تعلیم ټوله کمي برابر کړه ځکه چې دغلته دوي ته د مطالعې موقع په لاس ورغله او د دوي مطالعه نوره هم فراخه شوه ـ د آرکیائیوز کتابتون نه بخاري صېب د اتۀ ځلوېښت کالو په عمر کښې په خپله خوښه ریټائرډ شو ـ

طاهر بخاري صېب وائي چې وړومبے لیک ئې مزاحیه لیک وۀ چې په اردو ژبه کښې وۀ ـ چاند یوه رساله وه ـ د لاهور نه به وته ـ پیر جنګلي ئې ایډیټر وۀ ـ هغې کښې دغه مزاحیه مضمون چاپ شو ـ ۱۹۹۷ء کښې ئې په اردو کښې مضمونونه لیکل او هغه به رسالو کښې چاپ کېدل ـ دغه شان ئې افسانې هم په اردو کښې لیکلې وې ـ ټولې پنځۀ افسانې ئې لیکلې وې ـ

طاهر بخاري صېب ډېر تخلیقات ، تالیفات او ترجمې کړي دي ـ وحدت الوجود ئې د تصوف په موضوع یو دقیق او علمي کتاب دے چې د پېښور یونیورسټی د پښتو اکېډیمی د روهالوجي په تصوف کورس کښې شامل دے ـ برغون او تنقید او ادبي مفردات ئې د تنقید منلي شوي کتابونه دي ـ ''د عقیدت سفر'' ئې د اجمیر شریف سفر نامه ده ـ ''کلید معرفت'' ئې د اولیاؤ د اقوالو مجموعه ده ـ ددې نه علاوه طاهر بخاري صېب یو ډېر ښۀ مترجم هم دے ـ د حمزه بابا د ډېرو کتابونو ترجمې ئې دومره په ښۀ انداز کښې کړي دي چې د اصل ګمان پرې کېږي ـ د بابا نور ډېر لیکونه ناچاپه هم دي ـ

په دې پېپر کښې به زۀ د بابا په حېث د یو افسانه نګار جائزه اخلم ـ

طاهر بخاري صېب په پښتو افسانه کښې ځان ته یو خاص مقام لري ـ اوږده افسانه د هغه خاصه ده ـ د هغه د افسانو مجموعه پېوند ده چې په کال ۲۰۰۹ء کښې چاپ ده او د نړیوالې درجې افسانې لري ـ

طاهر بخاري صېب د افسانې ښۀ کهنه مشق لیکوال دے ـ ما ته ئې مخ په مخ مرکه کښې وئیلي وو چې :

''ما افسانه د شېخ عطار نه نقل کړې ده ـ د هغۀ حکایتونه مې کتلي دي رشتیا دي ما افسانه د شېخ عطار نه زده کړې ده[1] ـ''

طاهر بخاري صېب د افسانې لیکلو د تکنیک په حقله وائي چې :

''وړومبی کرښه یا اولنی دوه یا درې کرښو کښې

> به سسپنس Creates کړي بیا به هغه سسپنس هم Developکوي ـ مخ په وړاندي به بوځي بوځي عن تر دي چي عروج ته به ئي اورسوي چي Climax ورته وئیلے شي ـ افسانه به په End کښي وي ـ افسانه به د کلائمکس نه مخکښي کئ نه که مخکښي دي کړه نو هغه به ډرامه یا ناول شي خو افسانه نه ـ افسانه په ماضي ، حال ، مستقبل ځۀ کښي هم لیکلے شي[2] ـ ''

طاهر بخاري صېب اولنۍ افساني په اردو ژبه کښي لیکلي وي ـ د خپلي اولنۍ افساني په حقله وائي

''یوه افسانه چي د ۱۹٤۷ء په حالاتو لیکلي وه ـ په هجرت کښي یو خاندان را روان وي ـ یو ماشوم او یوه ماشومه ورسره وي او ډېر په تکلیف کښي وي ـ دوي دا دواړه ماشومان لار کښي کښېنوي او غاړو کښي ورله نخښي واچوي ـ هلک یو خاندان اوچت کړي او جینۍ بل خاندان اوچته کړي ـ د افساني په اخره کښي د دوي وادۀ اوشي او د نکاح په شپه پته اولګي چي دواړه رور خور وي ـ وائي چي :

> '' دا افسانه ما د پاکستان جوړېدو نه پینځه کاله پس لیکلي وه ـ د زروبۍ یو دوست محمد صفي راته اووے چي باچا لا خو د پاکستان د جوړېدو پینځه کاله نه دي شوي او تا پکښي خور وورور ته وادۀ کړه ـ نو زړۀ مي بد شو اومي شلوله ـ هلکوالے وۀ نۀ پوهېدم ګني اوس چي زۀ ګورم نو په افسانه کښي هېڅ قسمه غلطي نه وه ـ[3] ''

په پښتو ژبه کښي د طاهر بخاري صېب اولنۍ افسانه ''د جادو مانۍ'' وه ـ ددي افساني په حقله طاهر بخاري صېب وائي :

> '' افسانه د پخوا نه زما په مزاج کښي وه او اولسي ادبي جرګي ته تګ راتګ نور هم تحریک راکړو او په کال نولس سوه څلور پنځوسم کښي مي وړومبنۍ افسانه ''د جادو مانۍ'' اولیکله ـ دا افسانه میي اولسي ادبي جرګي ته د تنقید دپاره هم پېش کړي وه ـ په دي تنقیدي غونډه کښي طالب تاجک نومي یو شاعر وۀ هغه اووے چي دا ترجمه خو نۀ دۀ ما اووے چي زۀ کامیاب یم ځکه چي داسي شے لا په پښتو کښي نۀ وۀ[4] ـ ''

د دوي دوېمه افسانه ''د نسوار ډبے'' دے ـ ددي نه علاوه څۀ افساني وروکي هم دي چي وخت په وخت په مختلفو اخبارونو کښي چاپ شوي دي خو اوس په لاس نۀ راځي ـ لکه تربور ، کاکا ، قلبه ، پګړۍ او سندیافته ـ

ددي نه علاوه ئي هم ماته انټرویو کښي اووے چي اخري افسانه مي شپږم مونځ ده چي په کرکټ لیکلي شوي ده او یوه ئي د مستقبل په حقله لیکلي ده چي په ټوله نړۍ کښي به په اوبو جنګ وي ـ ''پېوند'' په کال ۲۰۰۹ء کښي چاپ شوے دے نو کېدے شي چي د بابا د هغي نه پس نوري هم ډېري افساني لیکلي وي خو چاپ شکل ته نۀ دي راغلي ـ

**د ''پیوند'' د افسانو موضوعاتي مطالعه :-** د پېوند د افسانو زمانه د ۱۹٥٤ء نه تر دسمبر ۲۰۰۸ء پوري ده او کینوس ئي د مشرق نه تر مغربه

پوري خور دے ـ که مونږ د پېوند موضوعاتي مطالعه اوکړو نو په دې نتيجه به اورسو چې د بابا Themes يوې جينې يا يو زلمي ته د ټولنې هغه کرداروته نۀ ورښائي چې هغه دې پام کوي او په غلطو خلقو دې نه اوړي ـ کوم چې په عمومي توګه د روماني قيصو موضوعات وي ـ د بابا موضوعات افاقيت ، انسانيت او روحانيت دي ـ هغه خپل نوي کهول ته خپله ژبه ، خپل تاريخ ، خپل کلچر ، خپل فولکلور او خپل قومي تشخص ښائي ـ د هغې عزت او تقدس ورته ښائي او د هغې د ګټې چل ورته ښائي ـ د احساس کمترۍ او د توهماتو د تورتم نه ئې را اوباسي او يو تعميري سوچ ورته ښائي ـ هغه د يوې ټولنې Cross Section نۀ ښائي ـ بلکې د ټولې نړۍ Cross Section ښائي ـ د هغۀ افسانې صرف زمونږ د ټولنې نه بلکې د ټولې نړۍ عکاسي کوي ـ د يو عام ليکوال د افسانه ګودر نه تر حجرې د رومانه پورې وي يا به د يو کلي يا د يوې شنې غرئيزې سيمې پورې محدوده وي ـ ولې د طاهر بخاري صېب افسانې د مشرق نه تر مغربه پورې دي ـ زمونږ د نړيوالې ټولنې ټول خويونه، روېې ، خېر او شر ، ښۀ او بد ، تور او سپين ، کمزورۍ او خوبۍ ، اعلٰی ظرفي او کم ظرفي ، تکبر او عاجزي ، محنت او مشقت ، سستي او کاهلي ، مينه او محبت ، سياست او حالات حاضره ټول هر څۀ په خپله مشاهده کښې نيولې دي او د انسان نه صرف جسماني او ذهني تربيت بلکې روحاني Catharsis هم کوي ـ بابا په اسلامي موضوعاتو هم خبره کړې ده ـ عن تر دې چې د هغۀ په افسانو کښې قرآني ايات او د حج او عمرې منظرونه هم په نظر راځي ـ خو انداز ئې تبليغي نۀ دے بلکې په ادبي انداز کښې ئې داسې په خوند خوند اخبرې کړې دي لکه چې روح روحاني قوت او تصوف غوندې موضوعات هم د انسان دپاره د لکه ډوډۍ او جامې ضروري عناصر وي ـ

د بابا افسانې چې ما اولوستې نو دا لاندې موضوعات په کښې زما مخې ته راغلل ـ

1. د مشرق او مغرب موازنه
2. د مغرب د خلقو نفسيات
3. انسانيت او افاقيت
4. سائنس او روحانيت
5. حالات حاضره / د پښتنو ژوند ته پېښې مسئلې
6. په حيات تنقيد
7. د مورنۍ ژبې اهميت
8. د پښتونولۍ عکاسي
9. طبقاتي وېش
10. تصوف
11. رجائيت
12. صبر او برداشت
13. فطرت نۀ بدلېږي
14. رومان و محبت

په نفسيات وړاندې ورکړو شوۀ موضوعاتو به يو په يو خبره

اوکړو ــ

**د مشرق او مغرب موازنه :-** لکه څنګه چې ما وړاندې اووے د پېوند په څۀ افسانو کښې د مشرق او مغرب تقابلي جائزه اخستې شوې ده ــ د مشرق او مغرب د جامه پېژاږ نه واخله تر وسلې پورې د خانداني نظام نه واخله تر کلتور او عقيدو پورې عن تر دې چې د مشرقي او مغربي خلقو د رويو تقابلي جائزه هم اخستې شوې ده ــ ''د مهابڼ لمن`` نوې افسانه کښې د مشرقي او مغربي ښځو د پت او وفا تقابلي جائزه اخستې شوې ده ــ په دې افسانه کښې مس ميريا نيلسن ډاکټر نواب سره د مينې دومره اظهار په داسې طريقو کوي چې د لوستونکي دا ګمان راشي چې دا لېونۍ پېغله به درنګ ساعت له خودکشي اوکړي او لکه چې دا جينۍ صرف د زړۀ خوښئ ته ګوري او صرف د جذباتو نه کار اخلي خو چې کله نواب کلي ته واپس راشي او د نواب دا خيال وي چې راپسې په دوېم فلائيټ کښې رانه شي هم دې ځاے د لوستونکي هم دا خيال وي چې يا خو به دا جينۍ نواب پسې په دوېم فلائيټ کښې راځي او يا به ئې د نواب په ناڅاپي تلو زړۀ ټک اوچوي ــ خو قاري هغه ځاے کښې حريان دريان پاتې شي چې کله هغه نواب ته هغه په سره سينه او په قلاره دماغو يو خط اوليکي :

''عزيزه ډاکټره !
ستا د ناڅاپي اواز لکه د اسماني تندر په ما وشو ــ ته دا تصور نه شې کولې چې کوم قسم زغم به ما کړې وي ليکن تۀ به په دې خبره خوشحاله شې چې لږه موده کېږي د لندن منارې څخه مې بالکل ستا په شان خوش طبيعته ، زيرک ، ټوقمار او ښائسته ځوان سره ملاقات اوشو ــ ما په زړۀ کښې وئيل چې هسې نه دے هم رانه اوتښتي نو وادۀ مې ورسره اوکړو او اوس هغه زما خاوند دے[5] ــ``

بل خوا د نواب خپله چنغله نۀ هغۀ ته خط ليکي او نۀ د مينې اظهار کوي ــ عن تر دې چې هغه ئې ليدلي هم نۀ وي خو په چپه خولۀ د هغۀ په پت کښې ناسته د هغۀ انتظار کوي او چې کله د هغې د مور پلار صبر تمام شي او د بل چا سره ئې کوژدن کول غواړي نو هغه يو دم د خودکشي فېصله کوي او په توره شپه کښې د مرګي ګړنګ ته ځان رسوي ځکه چې :

''ددې ننګيالو په خيال پښتنې جونه صرف يو چنغول ته کوژدنېږي[6] ``

دغه شان ''په مشرق او مغرب`` نومې افسانه کښې هغه د مشرقي او مغربي خلقو د خيالاتو، رويو او نظريو پوره پوره تقابلي جائزه اخستې ده ــ کله چې راوي د مستر ايډورډ او د هغې ښځې سره شاپنګ له لاړ شي او خپل پلار له جامې او بوټان واخلي نو هغوي حريان شي او ايډورډ ورته وائي ''بوډاګان په دوزخ کښې اوله او عيش کوه[7] ``

د مشرق په حقله د مغرب د خلقو تاثرات د ليکوال دپاره د شل سيريزې کانې نه کم نۀ دي لکه يو ځاے ليکي :

''تاسو مشرقي خلق به زمونږ نه کم و زيات دوه سوه کاله پس پخپله پوهـ شي[8] ــ``

دا خبره د ليکوال دپاره د شل سيريزي کاڼي نه کمه نۀ وي او ددې خبرو په اورېدو د ليکوال زړۀ ځيګر زخمي کېږي او ددې خبرې جواب داسې ورکړي ـ

’’ستاسو په خيال به مشرق د مغرب نه دوه سوه کاله وروستو وي ـ لېکن ښاغلي ايډيورډه واوره! چې مشرق نن ستاسو نه دوه زره کاله وړاندې دے[9] ـ ‘‘

طاهر بخاري صېب په خپل هر ليک کښې مغربيانو ته هم دغسې جوابونه ورکړي دي او په دلائلو او براهينو ورته ثابته کړې ده لکه په خپل بل کتاب کښې د رابرټ فالټ په حواله ليکي :

’’عربو درې ځيزونه داسې ايجاد کړل په کومو کښې چې هر انفرادي ايجاد ټوله دنيا يو عجيبه انقلاب سره مخ کړه ـ اول د بحري جهازونو دپاره قطب نما ايجاد وۀ ـ دويم د بارودو ايجاد وۀ او دريم د کاغذ استعمال او ترقي[10] ـ ‘‘

دغه شان چې کله ايډورډ د راوي په مونځ کولو ټک اوکړي ـ

’’ په دې سائنسي زمانه کښې هم مشرق لا د روحانيت د چکر نه نۀ دے راوتے او په لرغونو روايتونو پورې نښتے دے[11] ـ ‘‘

ليکوال ورته د افسانې د راوي په خولۀ جواب ورکوي چې :

’’ لالا باور اوکړه چې يوه ورځ به داسې هم راشي چې تاسو به د خپلې سائنسي جادوګرۍ نه ستړي شئ او دغه وخت بَه يو ځل بيا مشرق ته متازه شئ[12] ـ‘‘

او کله چې د ايډورډ ښځه د ايډورډ د زهرناکو پوډرو ايجاد کولو خبر ليکوال ته واوروي نو هغه ورته په جواب کښې وائي چې :

’’ د مغرب د برترۍ راز هم په مهلکو وسلو کښې دے ـ ستاسو سياست ، حکومت ، تهذيب ، ثقافت، تجارت غرض دا چې هر څۀ هر څۀ د زواورې وسلې د چترۍ د لاندې سفر کوي[13] ـ ‘‘

په دې افسانه کښې ليکوال ډېر په واضحه توګه د ايډروډ او د هغۀ د ښځې د خولې نه د مغرب ټول سوچ او نظريې بيان کړي دي او ډېر په همت او فنکارۍ سره ئې هغوي ته جواب ورکړے دے او داسې په ښۀ انداز ئې ورکړے دے چې د مشرق لوستونکي ئې د احساس کمترۍ او نااميدۍ حالت ته نۀ دي پرېښودي ځکه چې په افسانه کښې راوي هم داسې پوډر ايجاد کړي دي چې د هغې په استعمال به ټوله دنيا کښې هر قسم بارود او کيميائي مواد او د هغې د ريډيائي چپو اثرات ځان له ځان له ختم شي ـ د ليکوال دا قسم خبر مشرقي خلقو خلقو د عمل کولو يو بې شانه تحريک ورکوي ـ

دغه شان په ’’وسله‘‘ نومې افسانه کښې ليکوال د عراق او امريکې د جنګ ، ددې جنګ پس منظر ، وجوهات واقعات او نتائجو پوره پوره نقشه راښکلې ده او د امريکې د ظلم او بربريت نه ئې پرده اوچته کړې ده ـ ددې افسانې نه مونږ ته دا اندازه لګي چې ليکوال د کرنټ افئيرز جوخته مطالعه لري ـ دغه شان په ’’ادم خواره‘‘ نومې افسانه کښې ليکوال فېرنګيانو ته سړي

خوارهٔ وئیلي دي لکه وائي :

'' نني یورپین ، فېرنګي او امریکن اقوام د خپلو پخوانو لغړو او نهرو پلرونو او نیکونو جدید پېداوار دے ـ د شپاړسمي او ولسمي صدی نه راپه دېخوا دوي څهٔ څهٔ اونهٔ کړل ـ د ایشیا او افریقې په دولتونو ئې قبضه اوکړه ملکونه ئې غلامان کړل او خصوصاً دوه عظیم جنګونه ئې لا سېوا اوکړل ـ د خپلو بنیادمو اندامونه ئې په بمونو والوزول [14] ـ''

**د مغرب د خلقو نفسیات :-**

لیکوال د مغربیېب خلقو د سائنس او ټیکنالوجي کښې د ترقي ، د هغوي کلچر او نورو قامونو په حقله د هغوي د سوچ او رویو ژوره مشاهده او مطالعه لري او په خپلو افسانو کښې ئې ځاے په ځاے د هغې اظهار کړے دے لکه په وسله نومي افسانه کښې یو ځاے صدرکش نومي کردار د اجلاس غړو ته وائي چې :

'' زهٔ کرښه په کرښه د خپل والد صېب په وصیت عمل کومم او هغوي ماته وصیت کړے دے چې بچے نن عالمي قوت زور او دولت تا څخه دي نو پاسپاه په ټوله دنیا کښې هغه اکې یو مذهب جاري کړو په کوم چې تا پخپله او ستا وطن دارو ایمان راوړے دے ـ دغه شان په نړی کښې ټول کلچرونه ختم کړه او خپل کلچر رائج کړهٔ او بچے د هرې وسلې او هرې وسیلې په زور د ټولې دنیا نه د دولت مخه خپل ملک ته راسمه کړه او څویه تیل او تیل مه هېروه [15] ـ''

په دې وړوکي غونډې پېراګراف کښې بابا د مغرب د ټولو نفسیاتو نقشه راښکلې ده ـ د مغرب د مرامونو او کار ونو په حقله په پېوند نومي افسانه کښې لیکي چې :

'' ډېره موده کېږي زمونږ په ملک یو غېر ملکي قام قبضه کړې ده ـ زمونږ پلرونه د هغوي غلامان وو دي غېر ملکیانو د خپل حکومت په دوران کښې یو قانون پاس کړے وهٔ چې هر کله او هر چا کړه په غېر اباد کښې هلک وي که جینۍ پېدا شي نو د زېږون سره سم به ئې پښې پرېکولې شي [16] ـ''

وړاندې وائي :

'' د غېر ملکیانو اصلي مطالب دا وو چې په غېر اباد کښې یو تن هم تر قیامته قیامته په خپلو اصلي پښو اونهٔ درېږي [17] ـ''

لیکوال د خپل قام دا ټولې ستونځې وینې دي ستونځو د ویخ او تاریخ نه خبر دے او ددې وجوهات خپل زلمي کهول ته په ګوته کوي او د عمل کولو درس ورته په ادبي انداز کښې کوي ـ

**انسانیت او افاقیت :-** د پېوند د افسانو د لوستلو نه دا اندازه لګي چې لیکوال د ډلو او فرقو په نسبت په انسانیت او افاقیت ایمان لري او د خپلو افسانو په ذریعه د انسانیت او افاقیت درس ورکوي ـ افسانه اوشیار باچا کښې اوشیار باچا یو داسې انسان وي چې :

'' په خپل اورد تور قمیص کښې ئې څلور لوے لوے

جېبونه جوړ کړي دي او هر جېب ئې د ټافيانو،
چاکليټونو او خوږو ډک وي ـ په ټول ښار کښې چم په
چم ګرځي او د هر مذهب، هرې فرقې او عقيدې ماشومان
ورپسې وي او چې ټول راجمع کړي نو بيا پرې ټافيانې
ويشي[18]ـ''

يو ځل د اوښيار باچا کښې راوي د عقيدې په حقله تپوس اوکړي
نو په جواب کښې ورته وائي چې :

''حق تعالٰی بنيادمو سره مينه کول د عبادت مغز دے
او هغه به وئيل چې بنيادم که هندو وي که مسلمان وي
يا که سني وي که شيعه وي[19]ـ''

**سائنس او روحانيت :-**

د پېوند د افسانو د لوستو نه پته لګي چې ليکوال د سائنس هم Up to date مطالعه لري ـ ''تجربه'' يوه افسانه ده چې په هغې کښې د ډاکټرانو يو ټولګے په پېښور ښار کښې د ډاکټر منور په مشرۍ کښې يو انسان ته د دماغو، زړۀ ځيګر او ګردې په يو ځاے د ټرانسپلانټ کولو اپرېشن کوي او بيا ددغه سړي د جذباتو او تاثراتو مشاهده کول غواړي چې څۀ بدلون پکښې راځي ـ

نن سبا په پېښور ښار کښې د ګردې او ځيګر ټرانسپلانټ کېږي ولې د زړۀ او مزغو لا نۀ دے شروع شوے ـ دلته هم ليکوال د حال نه د وړاندې زمانې سوچ کوي ـ بحر حال د ليکوال سوچ دا دے چې که چرې سائنس دومره ترقي اوکړه چې يو مريض ته په يو ځاے ټول اعضائے رئيسه هم د بل انسان پېوند کولے شي ـ بيا به هم انسان د ژوند د سکون او ښو ساګانو دپاره د الله تعالٰی ذات ته محتاجه وي او د روحانيت سهارا به اخلي ـ ډاکټر منور دومره ماهر او تکړه ډاکټر وۀ چې ټول اعضائے رئيسه په يو ځاے هم يو مريض ته انتقالولے شي خو د خپل ځان علاج ورله نۀ ورځي او نۀ د خپل ناروغتيا په سبب پوهېږي او اخر دا چې د خپل ناروغتيا د خپل مريض د ګويايۍ دپاره حج له ځي اوځي کله طوافونو کښې د الله نه سوالونه شروع کړي نو پخپله هم ښۀ شي او مريض ئې هم ګويانه شي ـ

**د پښتنو ژوند ته پېښې مسئلې :-**

پښتون قوم ته چې نن سبا کومې مسئلې راپېښې دي ـ په ټوله نړۍ کښې برناحقه د پښتون نوم بدنام دے او دے د زوراورو قوتونو د لاسه همېشه دل شوے دے ـ په ښے لاس نومې افسانه کښې چې کله د موټر او بنګلې خاوند د غريب مسيکن نه تپوس اوکړي چې تۀ د کومې علاقې ئې نو هغه ورته جواب کښې وائي چې :

'' د هغه بدقسمته علاقې ـ ـ ـ ـ ـ ـ په کومه کښې چې
په شين اسمان تندرونه ورېږي او په نتيجه کښې ئې
انساني غوښې لکه د تپانو په ديوالونو ورتپلے شي ـ
اندامونه ئې د بارودو په وزرو لرې لرې الوځي او
سرونه ئې د فټ بال د پنډوس هسې په زمکه رغړي[20]ـ''

دغه شان په ''ارزانه'' نومې افسانه کښې ليکوال ډېر په هنر سره يو يو سوال راپورته کوي چې د بې حده ګرانۍ په هغه دور کښې هغه کوم شے دے چې د هر څۀ نه ارزان دے؟ د افسانې د جوابونو په شان د قاري په ذهن کښې چې کله مالګه کله ماچس او

کله څه راځي ولې د افسانې په اخره کښې د قاري د حېرانتيا حد نه وي چې ددغه سوال جواب وي ـ ’’د مسلمان وينه `` ـ

**په سياست تنقيد :-**

په پېوند کښې دوه افسانې نوې پارټي او تېتو خان داسې افسانې دي چې زمونږ د نن دور د سياسي حالت د طنز تر حده عکاسي کوي ـ په دې افسانو کښې ليکوال زمونږ د سياسي پس منظر ډېر واضحه تصوير خلقو ته ښکاره کړے دے چې پکښې د سياستدانانو حرص ، چالاکو او منافقتونه هم پرده اوچته شوې ده او د عوامو ساده توب او بې وقوفتيا په کښې هم غندنه شوې ده ـ د سياستدانانو عوامو ته په تقريرونو کښې د ناقابل يقين حده پورې مبالغې ، اوچتې دعوې کوي او چې کله اقتدار کښې راشي نو د ايوانونو دروازې پورې کړي بيا هغوي د يو ملاقات دپاره غريب اولس چې څومره خوارېږي دا هغوي ته پته وي ـ د داسې يو تقرير نقشه ليکوال په نوې پارټي نومې افسانه کښې راښکلې ده کله چې شمروزے زرين خان ته د سټېج دپاسه د کښېناستو دعوت ورکړي خو د هغه احساسات څه داسې وي ـ

’’ دغه وخت مې د سټېج نه لاندې ’’عوام`` ته کتل نو ځان راته ډېر اوچت ښکاره شو او ’’عوام`` کله چې په اوچ خو ډونګې کوهي کښې ناست وي ډېره زياته مزه ئې راکړه لکه چې خلا ته رسېدلے يم[21]ـ``

او کله چې دا ليډر تقرير له پاڅي نو په دۀ يره راغلې وي او څۀ ګډې ودې اووائي ـ خو بې وقوف ’’عوام`` په هره خبره تاڼې ټپوي ـ ـ ـ ـ ـ

د خپل غرض دپاره هر وختې پارټۍ بدلول ، په بهر ملکونو کښې ځان له جائيدادونه مالونه جوړول عوامو ته د دروغو دعوې کول ـ په بل الزامونه لګول ـ عدم برداشت او رشوت او سفارشې زمونږ د ليډرانو عام خصوصيات دي چې ليکوال ئې په دې افسانه کښې ډېر په ښکلي انداز کښې نقشه راښکلې ده ـ

**د مورنۍ ژبې اهميت :-**

’’پېوند`` کښې ټولې يو کم دېرش افسانې دي خو مجموعه چې په کوم نوم ده يعنې پېوند هغه د مورنۍ ژبې د اهميت په حقله ده چې ليکوال په کښې په علامتي توګه هغه ټول تاريخي پس منظر نقشه راښکلې ده د کومې په سبب چې مونږ د فېرنګيانو دغه ژبه زده کول ضروري ګڼو او خپله مورنۍ ژبې له يو پوټے اهميت نه ورکوو ـ او لا تر اوسه زمونږ ذهن غلام دے او تر اوسه زمونږ په سترګو پټۍ تړلې دي ـ ليکوال د کمال تر حده د علامت په ژبه ډېرې سنجيده او اهمې شخړې په ګوته کړې دي که ددې افسانې په لوستو هم زمونږ ضميرونه نه وېښېږي نو بيا مونږ بې حسه شوي يو ـ

**د پښتونولي عکاسي :-**

د پېوند د افسانو د لوستو نه پته لګي چې ليکوال د سر نه واخلې د پښو پورې سوچه او مثبت سوچ والا پښتون دے ـ په دې افسانو کښې مونږ ځاے په ځاے پښتنې قدرونه ، رسمونه ، رواجونه ، زمونږ ټولنيز نظام معاشي نظام تر دې چې زمونږ په ټولنه کښې د ښځو سرو ، زلمو ، بوډاګانو ټولو خويونه او روية

ئې هم په ګوته کړي دي ـ

د مهاجن لمن نومې افسانه کښې چې کله ډاکټر نواب ته د ورور د طرفه خط ملاوېږي او پکښې ئې د مور د پیځکي چیرږه هم د جرګې په توګه لیږلې وي ـ دا سین چې بنده لولي نو ضرور ئې سترګو له اوښکې راځي ـ د مور لوپټې قدر ته چې بنده اوګوري نو ځان ورته د مغربې د Old Age House د خاوندانو نه بدرجها تهذیب یافته ښکاره شي ـ

دغه شان زمونږ په ټولنه کښې زمونږ د رشتو جوخت بنړلے شوے جال چې پکښې د هرې رشتې خپل مخصوص نوم او د خپل نوم هومره کوټلے اهمیت هم دے ـ په ''مشرق او مغرب'' افسانه کښې چې کله راوي د ایډورډ ښځې ته بابي وائي نو هغه ترې نه متاثره کېدو بغېر نۀ پاتې کېږي ـ

''چې کله به زما د خولې نه ''بابي'' لفظ واورېدو نو د ډېرې خوشحالۍ نه به ئې یو هې غوندې اوکړل او ماته به ئې اووې چې زمونږ په ژبه یا استوګنه کښې د ورنداري دپاره دومره درونډ خوږ لفظ نۀ کورونو کښې استعمالېږي او نه د کتب خانو په لغتونو کښې مونډے شي[22]ـ''

**طبقاتي ويش :-**

زمونږ په ټولنه کښې د پېسې په لحاظ کومه ډلبندي شوې ده ـ لیکوال د هغې پوره نقشه راښکلې ده ـ زمونږ ملک داسې عجیبه دے چې خوار پکښې ورځ تر ورځ خوارېږي او مالدار پکښې مالدارېږي ځکه خو دا متلې مشهورې دي چې :

خوار په کلي خوار په هندوستان هم خوار
او مال مال له ځي

زمونږ په ټولنه کښې یو خوا دومره غریب خلق دي چې د دوۀ وختو ډوډۍ نه مومي او بل خوا دومره مالدار خلق دي چې د هغوي سپي ، پیشوګانې هم د مزو خوراکونه کوي ـ لکه په ښي لاس نومې افسانه کښې یو خوار غریب واقعي د سخا ډرم نه ډوډۍ راخلي او په خوړلو ئې مجبوره دے ـ بل خوا د خان د سپي خوراک مینو څۀ داسې ده ـ

''دغه شرمخي سپي ته به زما په لاس هر سحر د ډبل ډوډۍ سره نیم پاؤ کُچ ، بیا وروستو دوه کلو نرۍ غوښه ، بیا ورپسې یو کلو پئۍ او یو غټ کریم کیک او بې شماره پیسټرۍ کېښودلې شوې ـ د شپې خوراک ئې لا جدا وۀ او د اتوار په ورځ به ورته صېب په خپل لاس دوه کلو وزنې چرګان ورکول[23]ـ''

**تصوف :-**

د تصوف په حقله ښاغلي لیکوال ''وحدت الوجود'' یو منلے شوے کتاب دے چې زما غوندې کم فهمه انسان پرې په اسانه نۀ پوهېږي ـ تصوف د کلاسک شاعرانو د شاعرۍ موضوع خو کېدے شي ولې د افسانې موضوع چرته نۀ ده پاتې شوې ـ ولې ګران طاهر بخاري صېب تصوف غوندې موضوع ډېر په مهارت او ادبي طرز په افسانه کښې ځاے کړې ده ـ اصل کښې انساني ژوند ته اپروچ د طاهر بخاري صېب د هر چا نه بېل او ځانګړے دے ـ عام لیکوال د

انسان د جسم سره تړلي مسائل له په افسانه کښې ځاے ورکوي ولې د انسان د روح سره تړلو مسائلو له ډېر کم ځاے ورکوي ـ ولې طاهر بخاري صېب د انسان جسماني او روحاني ضرورتونه په يو ځاے بيائي او هم دا د هغه کمال دے چې هغه ئې د نورو ليکوالانو نه ممتازه کړے دے ـ په دولت او يو حرف نومې افسانه کښې د طاهر بخاري صېب موضوع تصوف ده ـ يو حرف نومې افسانه کښې د تصوف او صوفيانو خلقو د ژوند په حقله خبرې شوي دي چې انسان ترې متاثره کېدو بغېر نۀ پاتې کېږي ـ ددې نه علاوه ئې د تصوف څۀ رازونه هم په ګوته کړي دي ـ د انسان د خواهشاتو څۀ سر نشته ـ دے هميشه د نور او نور په تلاش کښې وي ـ ولې د پښتو متل دے چې د انسان سترګې به صرف په خاورو مړېږي ـ هم ددې متل حقيقت طاهر بخاري صېب په دولت نومې افسانه کښې په ګوته کړے دے ـ

**رجائيت :-** د رجائيت تعريف مونږ داسې کولے شو ـ

"Optimism is the feeling of being hopeful about the future or about the success of something in particular[24]".

ترجمه :- د يو څيز د کاميابۍ يا مشکل په حقله د امېد احساس ته رجائيت وئيلے شي ـ

طاهر بخاري صېب د يو پښتون او مسلمان دپاره د مقامي درجې نه واخلې تر نړيوال کچ پورې ډېر پېچلې مسئلې رامخې ته کړې دي ولې قاري د غم او د نا اُميدۍ او احساس سره نه مخامخ کوي بلکې د يو نوې جذبې او اُميد سره ئې مخ کوي او قاري عمل کولو ته راپاروي ـ په مشرق او مغرب نومې افسانه کښې هغه د خپل کلتور او تهذيب ښۀ او مثبت اړخونه په ګوته کوي او ايډورډ او د هغۀ ښځې ته د هغوي د هرې غلط فهمۍ او احساس برترۍ ښۀ کوټلے جواب ورکوي ـ بل هغه که په معاشره کښې يو منفي کار يا منفي کردار ښائي لکه په افسانه قانون کښې سيټ سرفراز په افسانه سنداني کښې سندانے او په افسانه انسان شېطان او رحمان کښې غندل خان منفي کارونه کوي هغه د افسانې په اخر کښې نيکې لارې ته اوړي او داسې د قاري نه صرف Catharsis اوشي بلکې هغه د خپلې ټولنې او د ټولنې د داسې کردارونو نه کرکه نه پېدا کېږي او نه د خپلې ټولنې په حقله د نا اُميدۍ سره مخ کېږي ـ

**صبر او برداشت :-**

نن سبا د يو صنف د بل صنف دپاره د يو نسل د بل نسل دپاره د يوې فرقې د بلې فرقې دپاره او د يو قوم د بل قوم دپاره د برداشت قوت نشته ـ په دې وجه خو نړۍ کښې د Tolerance نړيواله ورځ نمانځلو ضرورت پېښېږي ـ ولې طاهر بخاري صېب نۀ صرف د کردارونو په ذاتي توګه صبر و برداشت ښودلے دے بلکې په ټولنيز او نړيواله سطح ئې هم د برداشت درس ورکړے دے او ددې ضرورت ئې په ګوته کړے دے ـ

**فطرت نۀ بدلېږي :-**

د انګرېزۍ يوه مقوله ده چې Nature can't be chanced او د پښتو متل دے چې عادت نۀ نورېږي ـ او دا مقوله ګران ليکوال په اصل نسل نومې افسانه کښې ډېره په ښۀ توګه واضحه کړې ده ـ د

مارغانو او ځناورو سره سره دا خاصيت په انسانانو کښې هم موندے شي ـ ولې ګران ليکوال دا حقيقت د علامت په ژبه په دغه افسانه کښې ډېر په خوند خوند بيان کړے دے ـ

**رومان و محبت :-**

د طاهر بخاري صېب د افسانو تقريباً موضوعات ډېر سنجيده دي ولې داسې نۀ ده چې د هغه په افسانو کښې رومان بېخي نشته بلکې د هغوي افسانو کښې بې حده رومان په ډېره شکلې او ادبي ژبه کښې بيان شوے دے ـ امانت ، د نسوارو ډبے ، د مهاېنې لمن د رومانوي افسانو بهترينې نمونې دي ـ ددې نه علاوه په برېښنا نومې علامتي افسانه کښې رومانوي مکالمې د مزاح رنګ لري ـ

**نفسيات :-**

که مونږ د پېوند د افسانو مطالعه اوکړو نو په دې خبره به اورسو چې طاهر بخاري صېب د انساني نفسياتو جوخته او ژوره مطالعه لري ـ داسې لګي چې هغه د خپلې ټولنې د يو يو کس په رګونو کښې ناست دے او چې څوک څۀ سوچ کوي هغه ئې لوستے شي ـ د يو نارمل انسان څۀ نفسيات وي دا هم په عامو افسانو کښې بيان شوي دي ـ

کله چې يو انسان خپل تعريف د چا د خولې نه واوري نو هغه متاثره کېدو بغېر نه پاتې کېږي ـ په ''شډل'' نومې افسانه کښې چې کله شډل خوان ته اووائي چې :

ګرانه مشره ! هغه اووې چې ما د ستا نوم اورېدلے وۀ نو ما وئيل چې ملاقات درسره وکړم چې ما د خپل نوم اورېدلو واؤرېدل نو هغۀ زلمي اګرچې شډل وۀ خو ډېر پے مخے او خوږ رابانـدې اولګېدو ـ

په غېبې انصاف نومې افسانه کښې واصل خان يو ابنارمل Sadist انسان دے ـ چې بل انسان ته تکليف رسولو کښې ورته خوند محسوسېږي ـ

> **''زما به هره هغه ونه خوښه وه چې نېغې نېغې چمکې به ئې کولې ـ ـ ـ ـ ـ چې سلطانې به پرې صرف وهل خوړل ـ د ګزار سره د سلطانې په نرې اواز ''وئ'' او د چمکۍ يو ''شين'' به زۀ داسې مستېدم لکه په اوښ چې د جرسونو او ګنګرو شرنګارول راولي[25] ''ـ**

د پېوند د افسانو فني جائزه

---

د پېوند د افسانو که مطالعه اوشي نو طاهر بخاري صېب د کمال تر حده کاميابه افساني ليکلي دي او که چرې د پېوند د افسانو فني جائزه واخستے شي نو لاندې جوت خصوصيات په ک ښې شکاري ـ

1. کردار نګاري
2. علامت نګاري
3. حقيقت نګاري
4. منظر نګاري

5. مقامیت
6. طنز و مزاح
7. فولکلور
8. سوچه او زاړۀ لغات
9. ژبه او د لیک اسلوب

کردار نګاري :-

طاهر بخاري صېب د خپلې ټولنې د انسانانو ډېره او ډېره ژوره مشاهده کړې ده ـ دومره ژوره چې د هغۀ کردارونو کښې ډېره ورائټي ده ـ د مافوق الفطرت نه واخله تر ژوندي ژاړه انسانانو پورې ، د عام غریب نه واخله تر بادشاهانو پورې ، د هغه د خپل ذات نه واخله زمونږ د ټولنې د اصلي انسانانو پورې او دغه شان علامتي کردارونه هم موندے شي ـ

د پېوند د افسانو لوستو نه دا جوتېږي چې لیکوال د مختلفو کردارونو د سازولو ماهر دے ـ د کردار د نوم نه واخله هغه د قد قامت رنګ ، جوسه او خوي خصلت هر څۀ پورې لیکوال پوره پوره خیال ساتلے دے ـ

که د مثال په توګه اوګورو نو په افسانه '' د مهابڼ لمن'' کښې نواب ډاکټر دے خو د هغۀ تعلق د غرئیزې سیمې د یو کلي سره دے ـ په دې وجه د هغۀ نوم نواب دے او هغه که په انګلېنډ کښې ډاکټري اوکړي خو د خپل کلي خوي خصلت ترې نۀ اوځي ـ د مور د لوپټې چیرېږې ته په ژړا کېدل خپل ختې ورور ته وریادېدل او بیا په توره شپه کښې ټو پک په لاس په مرګي ګړنګ تېردل د هغۀ د یو پښتون ځوان په شان کردار جوتوي ـ بل خوا د لندن د سیمې نوم مس میریا نیلسن د هغې رنګ جوسه او ښائست د انګرېزانو وي ـ سندانے یو ډاکمار ، شوقمار دے ـ په دې وجه د هغۀ جوسه مضبوطه، سینه پلنه دنګ لوړ او نوم سندانے دے ـ یعني په زړۀ کلک کومو خلقو چې په دې وطن د حمله اورو سره کومک کړګے دے هغه له ئې ټټو خان د هغه د وارث نوم اسمان خان او د هغه د نوکر نوم ډېرانے دے ـ دغه شان د سیټهـ او مالدار سړي نوم سرفراز خان دے ولې د ملک غېر اباد د اوسېدونکي نوم بیجړ دے ـ

سلطانی ، صابره ، سرداره ، تابان او لاله ګله زمونږ د معاشرې صابرې ، شاکرې ، پت پالونکې او وفادارې ښځې دي ـ ډاکټر نواب ، ډاکټر منور ، پېرو ، صدبر ، کامران ، مسکین او نوشاد بابو زمونږ د ټولنې شریفانان سړي دي ـ ولې د واصل خان په شان ابنارمل کردارونه هم پکښې شته ـ ددې نه علاوه زلمے قاز ، بوډا طاؤس ، مشر ډینګ او ناوې زرکه غوندې کردارونه د هغۀ په افسانو کښې موندے شي او ډاکټر مسعود ، سیف علي شاه ، عاشق حسېن قلندر او اوښیار باچا غوندې د ټولنې اصلي کردارونه هم د هغۀ په افسانو کښې په نظر راځي ـ معزز طاهر بخاري صېب ماته پخپله وئیلي وو چې اوښیار باچا زما خپل کردار دے ـ ماته بې غم باچا هم د هغۀ خپل کردار ښکاري ـ

ددې نه علاوه که د پېوند د کردارونو تجزیه اوشي نو په پېوند کښې مونږ د ښځو منفي کردار چرته هم نه وینو ـ دا ټول د لیکوال د بې حده مثبت رویې او نظر د وجې دي ـ دغه شان

ليکوال په ټولنه کښي د بوډاګانو هم ډېر مهم او مثبت کردار ښودلے دے ۔

**علامت نګاري :-**

د طاهر بخاري صېب د افسانو بل غټ خاصيت د علامت نګارۍ دے ۔ په پېوند کښي ټولي دري افسانې علامتي دي ۔ د جادو مانۍ ، پېوند او برېښنا ۔ دي کښي پېو ند او د جادو مانۍ بې حده سنجيده موضوعات لري ۔ زما په خيال د جادو مانۍ کښي ښائسته ښاپېرۍ د دنيا د علامت دے کوم چي انسان په قسم قسم طريقو خپل جال کښي ګېروي او د غر په وېخ کښي بوډا د مذهب وعظ کوونکي علامت دے ۔ واعظ که هر څو يو انسان ته منت کوي خو انسان د دنيا په رنګينو او عياشو کښي ډوبېږي ۔

پېوند افسانه کښي د پردۍ ژبي پېوند د غېري ژبي يعني انګرېزۍ علامت دے کوم قامونه چي خپلي ژبي هېري کړي او په خپله ژبه کښي نۀ د تعليم سوچ کوي نۀ د نصاب نۀ د دفتري ژبي او نۀ د مارکيټ د ژبي نو د هغوي هم دا حالت وي ۔ ليکوال په دي افسانه کښي د لارډ ميکالے د قرارداد او زمونږ د مورنۍ ژبي د حالت زار د پوره پس منظر نقشه راښکلي ده ۔ پېوند ته مونږ يو شاهکار افسانه وئيلے شو ۔

برېښنا يو داسي علامتي افسانه ده چي زمونږ په ملک کښي د بجلۍ او د لوډ شېډنګ د حال نقشه راکاږي او د مزاج رنګ لري چي قاري تري په لوستو کښي خوند خامخا اخلي ۔ ولي څنګه چي د طاهر بخاري صېب د نورو افسانو خاتمه ډېره سنجيده ، زړۀ راښکونکي او سبق اموزه ده ۔ دومره د علامتي افسانو اختتام ښکلے نۀ دے ۔ د جادو مانۍ نومي افسانه کښي د راوي د خوبه رابېداريدل د افسانې ټول خوند پيکه کړي ۔

په پېوند کښي د سرو ښختو عمارت ښوونه او په برېښنا کښي د راوي پخپله د برېښنا د کردار ښکاره کول د افسانې خوند خرابوي ۔ قاري پخپله هم په دي علامتونو پوهېدے شي ۔ په دي وجه زما په خيال دا فېصله قاري ته پرېښودل پکار وو ۔

**حقيقت نګاري :-**

د حقيقت نګارۍ تعريف مونږ داسي کولے شو ۔

The quality or fact of representing a person or thing in a way that is accurate & true to life[26]

ترجمه :- د يو شخصيت يا يو څيز څۀ خاصيت يا حقيقت په داسي طريقه پېش کول چي هغه ډېر رشتينے او ژوند ته نزدې وي ۔

د طاهر بخاري صېب افسانې حقيقت ته ډېري نزدې دي ۔ هغۀ د ژوند ، د ژوند د حقيقتونو، د ژوند کردارونو، واقعاتو ، حالاتو او د مرګ و ژوند د فلسفې ډېر د نزدې نه ډېره ژوره مشاهده کړې ده او هم هغه حقيقتونه ئې د قلم په ژبه د افسانې په شکل کښي بيان کړي دي ۔

د طوالت د وجې د حوالو راوړلو نه ډډه کولے شي ۔ ددې نه علاوه د ليکوال خاص سټائل دادے چي د زيات تر افسانو راوي پخپله دے يا د ليکوال د افسانې يو مرکزي کردار دے ۔ په داسي قسم افسانو د قاري د حقيقت ګمان کېږي چي ګني ليکوال قاري ته پخپله لګيا دے او قيصه ورته بيانوي ۔ د هغه کردارونه حقيقت ته بې حده نزدې دي نۀ مکملې فرشتې وي او نۀ شېطانان بلکې

ددي په منځ کښې ژوندي ژاړه انسانان چې ګناه هم کوي او نيکي هم کوي ـ

**منظر نګاري :-**

پېوند کښې ځاے په ځاے داسې پېراګرافونه مخې ته راځي چې هغه د انځورګرۍ بهترينې نمونې دي ـ د لفظونو په ژبه د مينې او يرې واقعات ، د تکنه ، د غرمو او تورو شپو منظرونه او د انسان د ژوند د تودو سړېږو واقعات پينټ کول د طاهر بخاري صېب خاصه ده ـ ولې د طوالت د وجې د دلته د حوالو راوړلو نه ډډه کولے شي ـ

**مقاميت :-**

زمونږ په اکثرو افسانو کښې ځايونه بر کلے او کوز کلے ، پورې غر ، د سيند غاړه ، هغه ځايونه Locate کولے نۀ شي چې دا به چرته وي هم او کنه او کله چې د بنده په يو جغرافيائي ځاے ځائيګي يقين نۀ راځي نو په هغه قيصه او د قيصې په کردارونو ئې هم يقين نۀ راځي خو د ګران طاهر بخاري صېب افسانې چې بنده لولي نو په يو يو ځاے او په يو يو کردار د بنده يقين راځي ـ د هغه په افسانو کښې مردان، پېښور ، لندن ، پير بابا ، وړوکے لاهور او نګرۍ غوندې ځايونه هم شته او صرف د خيال په زور رغ شوي ځايونه لکه د جادو مانۍ او ملک غېر ابادا هم شته ـ

**طنز و مزاح :-**

د طاهر بخاري صېب په افسانو کښې طنز و مزاح هم موندے شي ـ په خپلو قامي او ټولنيزو خرابو طنز کول او په رومانوي افسانو کښې د خوند او د مزاح مکالمې هم شته لکه د مثال په توګه د مهابڼ لمن نومې افسانه کښې چې مس ميريا نيلسن د ډاکټر نواب نه د واډۀ په حقله تپوس کوي نو هغه ورته وائي چې :

وادۀ يو مرض دے چې په هره پېغله او هر زلمي لکه د شري د ننګو حمله کوي ـ

دغه شان په پړونې نومې افسانه کښې چې کله تسليمي د واورې کناوي په شين اسمان صرف د فېشن دپاره اچولې وي نو راوي ورته وائي چې تسليمي واوره جوړ ډېره شوې ده ـ

دغه شان د شيرافګن د پتلون په حقله وائي چې هغه ګلدار جېکټ اچولے وۀ او د پتلون پينڅې ئې دومره ارتې وې چې ځلور پښې پکښې په اسانه راتلې شوې ـ دغه شان هغه چې کله شيرافګن ته پروتې ورکوي نو دا طنز پرې کوي چې ګنې ستا لباس د زنانوۀ دے او صرف د پړونې کمے دے پکښې ـ

په تېتو خان نوې پارټي او وسله نومې افسانه کښې په ملکي او نړيوال سياست ډېر په بامعنٰي ، با اثره او زړۀ راښکونکي انداز کښې تکونه شوي دي ـ

**فولکلور :-**

فولکلور د ژوند د تجربو په حقله د اولس پوهې ته وائي ـ

د طاهر بخاري صېب په افسانو کښې د مادي او غېر مادي فولکلور ډېرې ښې نمونې په لاس راځي ـ لکه په امانت نومې افسانه کښې د بريښ دپاره د ګلابو تېل او يسته ، د سترګې د ګل ښۀ کولو

دپاره د سرِاسي رانجۀ ، د ملنګ رباب تنګول ، د لاله ګلې په بالښتونو کښېدۀ ، د مادي فولکلور مثالونه دي چې افسانې ئې حقيقت ته نزدې کړې دي او ددې نه علاوه ټپې ، متلې او اړونه او محاورې د غېر مادي فولکلور هغه مثالونه دي چې افسانو ته ئې ښکلا بخښلې ده ـ

ما په صحرا کړله شپه تېره
په غوږ مې نۀ شو ستا د پېلو اوازونه

او

نوابه دومره فکر اوکړه
د پېرنګی مينه يو باد دے تېر به شينه[27]

د خيالونه ثرخه ريشل ، په بانکو وژل ، ماړۀ کتل ، د زړۀ پولې چول ، د زړۀ سيپارې سپړدل، زړۀ ته د اوسپنې سام خېژول ، کاش کامبورے ښکارېدل ، اوبۀ بليدل ، په مچوغنو الوزول او داسې نورې ډېرې محاورې د طاهر بخاري صېب د افسانو خوند سېوا کوي ـ

دغه شان لور هم د کوره او خور هم د کوره ، د سپي د لکې د لاندې ژوند کوه ، خو ژوندے يه ، چې خدائے پاک ئې نۀ کړه نو ديوانه بابا به ئې څۀ کړه ، چې په موګې دې لوے شي غاښ ئې مۀ ګوره ، چې چرته ډب وي هلته ادب وي ، غوندې متلونه د هغه په افسانو کښې مونده شي ـ ددې نه علاوه يو شمېر اړونه هم د هغۀ د افسانو ضروري برخه ده ـ

**سوچه او زاړۀ لغات :-**

د طاهر بخاري صېب ژبه ډېره اسانه او روانه ده ـ په متل او په ټپه او د محاورې په کالو ښائسته ده ـ ددې نه علاوه به په کښې د صوابی د سيمې زاړدۀ لغات هم د هغه په افسانو کښې خوندې دي چې د هغه افسانو ته ئې بې کچه ښکلا بخښلې ده ـ

بوړږې بوړږې ، سارۀ او پلنو ، موړې ، سر سُنت ، جم جقړ ، ستونې ستغ، شومه دم ، بې وقره ، د ګګ نه يو ګګ ، نا توګلې خبره ، کوکاړې ، مړسپن ، بيش په بيش ، بانجې ، کرکنډې ، کمځی ، څاوې ، سانکېدل ، لوړيا کوړيا ، مشاده ، ستانه ، کښېده ، سمسته ، چمکی ، ګودړې ، دمړے ، کښه ، ماشوړه ، پړنجېدل ، سامی ، ناخوالی ، په انده کړې وئيل او داسې نور ډېر ـ

**ژبه او د ليک اسلوب :-**

د طاهر بخاري صېب د ساده او صفا ژبې چې څومره هم تعريف اوشي کم به وي ـ د هغۀ په ژبه کښې هېڅ ابهام او غوټه په نظر نۀ راځي ـ نۀ پکښې قاري د سوچ يا خنډ سره مخ کېږي ـ ګران نه ګران خيال هغه ډېر په اسانه لفظونو کښې پېش کولے شي ـ د هغه ژبه ډېره صفا او د پښتنې کلتور عکاسه ده هېڅ څۀ مصنوعيت او بې ځايه او ادبيت پکښې نشته ـ هغه د ډېرې رومانې مکالمې هم په عامه او صفا ژبه کښې دي ’’او زۀ رشتيا وايم‘‘ ـ ’’ښۀ مې ياد شي ـ ـ ـ ـ ـ ‘‘ داسې غوندې جملې د هغه افسانو ته ډېره ښکلا ورکوي ـ

لنډه دا چې د طاهر بخاري صېب د افسانو د مطالعو نه دا جوتېږي چې هغه مسلمان به کافر باندې غوره ګڼي ـ مشرقي تهذيب

له په یورپي تهذیب فوقیت ورکوي او د یو پښتون په حیث په خپل قومیت په خپل قومي تشخص ، په خپل روحانیت ، په خپله ژبه او خپل کلتور فخر کوي او چرې چرې د احساس کمترۍ نهٔ ښکار کېږي او نهٔ د یورپ د طلمساتو نه متاثره کېږي او دا نعرې هغهٔ په جار وهلې دي ـ هغه د یورپي تهذیب او کلتور ، ددغه خلقو د عیارانه چالونو خلاف د ادب په هر محاذ که هغه شاعري ده او که نثر او که تنقید دے جنګېدلے دے او بریالے ښکاري ـ

# حوالي

1 طاهر بخاري صېب سره مرکه ، وړوکے لاهور ، نېټه
2 هم دغه
3 هم دغه
4 هم دغه
5 طاهر بخاري ، ۲۰۰۹ء ، پېوند ، پېښور : جدون پرنټنګ پرېس ، ص ۱۳۵
6 هم دغه
7 هم دغه ، ص ۱۳۸
8 هم دغه ، ص ۱۳۸
9 هم دغه ، ص ۱۳۸
10 سید طاهر بخاري ، ۲۰۱۶ء ، تنقید او ادبي مفردات ، لاهور ، موسٰی اینډ برادرز پرنټرز ، ص ۷۱
11 طاهر بخاري ، ۲۰۰۹ء ، پېوند ، پېښور : جدون پرنټنګ پرېس ، ص ۱۳۵
12 هم دغه ، ص ۱۳۹
13 هم دغه ، ص ۱٤۰
14 هم دغه ، ص ۲۱۳
15 هم دغه ، ص ۲۷۰
16 هم دغه ، ص ۲۰۲
17 هم دغه ، ص ۲۰۳
18 هم دغه ، ص ۲۳٤
19 هم دغه ، ص ۲۳۹
20 هم دغه ، ص ۲٤۹
21 هم دغه ، ص ۱۹۳
22 هم دغه ، ص ۱۳۷
23 هم دغه ، ص ۲۱٦
24 Collins dictionary cow httpsi//www.collinsdictionary.com (accessed September 10, 2023)
25 طاهر بخاري ، ۲۰۰۹ء ، پېوند ، پېښور : جدون پرنټنګ پرېس ، ص ۷۷
26 httpsi//www.oxforddictionary.com
27 طاهر بخاري ، ۲۰۰۹ء ، پېوند ، پېښور : جدون پرنټنګ پرېس ، ص ۹۵ ، ۱۳٤